# اساسي کرښې

د افغانستان کمونیست سازمان

# د افغانستان کمونیست سازمان

# اساسي کـــرښې

# سریزه

د اساسي کرښو سند د بیلابېلو ملي، ټولنیزو، سیمه ییزو او نړیوالو مسایلو په اړه د افغانستان د کمونیست سازمان د تیوریکي، سیاسي او انقلابي دریځونو ښودونکی دی. دا سند د ګڼو مسایلو په اړه زموږ لیدلوري ته - چې د سازماني نړۍ لید څخه تعمیم او استنتاج شوی - انعکاس ورکونکی دی.

اساسي کرښې زموږ سازماني غړو او پلویانو ته د بیلابېلو مسایلو په اړه د سازمان د څرګندو او لنډو دریځونو بیانونکي دي، تر څو هغوی یې په بیلابېلو محافلو کې د خپلو سیاسي نظرونو د څرګندولو او سیاسي تحلیلونو د ترسره کولو پر مهال په پام کې ونیسي. دا سند د نورو هغو بهیرونو لپاره چې زموږ د سیاسي دریځونو څخه د خبرېدلو په لټه کې دي؛ هم ښایي ګټور تمام شي.

په دې سند کې د سازمان په ډاګه شوي دریځونه د سازمان د فکري – فلسفي بنسټ (مارکسیزم- لنینزم) په رڼا کې د مشخصو شرایطو څخه د مشخص تحلیل له مخې بیان شوي دي، چې په ټولو یادو شویو مواردو کې د مشخصو شرایطو د بدلېدلو سره سم، ښايي زموږ په دریځونو کې هم بدلونونه راشي.

## د سازماني نږدې ليد په اړه:

۱. مادي جهان د پېژندلو او د پېژندلو له لارې، د بشري ټولنې په ګټه د بدلون وړ دی.

۲. پر طبقاتو وېشل شوې ټولنه؛ پر طبيعي او ټولنيزو کړکېچونو باندې د بشري ټولنې د نه برلاسي‌توب اصلي لامل دی.

۳. مارکسيزم-لېنينيزم د بې‌طبقې ټولنې د جوړولو لارښود علم دی.

۴. موږ په نړۍ کې د رښتينې ډموکراسۍ، عادلانه سولې او ملي - بشري حقونو د تامين ملاتړ کوو او د هر ډول امپرياليستي، هژمونيکو او ناعادلانه جګړو، نظامي تړونونو، تحرکاتو، سياليو او لاس‌وهنو او ښې اړخو بهيرونو د واک ته رسېدنې سره په کلک مخالفت کې درېږو.

## د افغانستان په اړه:

۱. افغانستان په وروستیو ۱۵۰ کلونو کې د خپل جیوپولیټیک، جیواکونومیک او جیوستراتیژیک موقعیت د ارزښت له مخي، د نړۍ د زبرځواکه امپریالیستي هیوادونو د خپل‌منځي سیالیو او جوړجاړیو ډګر ګرځېدلی، چې په نتیجه کې یې د افغاني ټولني د ټولنیز تکامل بهیر ټکنی او له ګڼو خنډونو سره مخ کړی دی.

۲. موږ د افغانستان په تاریخ کې د لومړي مشروطیت غوښتونکو د غورځنګ څخه را پیل بیا تر نن ورځي پوري د ټولو ملي، انقلابي، ډموکراټیکو، آزادي غوښتونکو او استعمار، امپریالیزم، استبداد او ارتجاع ضد منورینو او روښانفکرو شخصیتونو، پوهانو، ادیبانو، ولسي مشرانو او سیاستوالو او نورو مترقي بهیرونو، ګوندونو او غورځنګونو د مترقي او انقلابي سیاسي مبارزو او سربښندنو درناوی کوو، په تاریخي بهیر کې یې ارزښتناکي تجربې په انتقادي لید سره تحلیلوو، تر څو له هغو څخه په اوسني عصر کې د خپلو مبارزو د مخته وړلو لپاره ګټور درسونه واخیستلای شو.

۳. د افغاني ټولني د شته تضادونو له منځه عمده تضاد؛ په یوه اړخ کې د تولیدي او ټولنیزو اړیکو د تکامل د کچي شدید وروسته پاته‌والي او په مقابل اړخ کې یې د ټولنیزو اړیکو د ودي لپاره د خلګو د بېلابیلو ملي، ډموکراټیکو او انقلابي ځواکونو ترمنځ ټکر تشکیلوي. د یاد عمده تضاد په شتون کې، د ارتجاعي ځواکونو په ګټه د قواوو د توازن په بدلېدو سره؛

افغانستان د یوې پېړۍ راهیسي د نړۍ د زبرځواکه امپریالیستي نظامونو ورانونکي لاسوهني، د کورني ارتجاعي ځواکونو پیاوړتیا او د ټولنیزو اړیکو د تکامل د کچې ټکني کېدل تجربه کوي.

۴. د افغاني ټولني عمده تضاد ته په کتلو سره، د افغانستان انقلابي ځواکونه به هم مهاله په یوه خوا کې د ټولنیزو اړیکو د وروسته پاته والي د ټولو بڼو (سیاسي، اقتصادي او فرهنګي) سره مبارزه کوي او په بله خوا کې به د هیواد په کورنیو چارو کې د نړۍ د استعماري، امپریالیستي او سیمې د ارتجاعي نظامونو لاسوهني هم دفع کوي.

۵. د افغانستان د وروسته‌پاته تولیدي او ټولنیزو اړیکو په لمن کې را ټوکېدلو ملي، مترقي او انقلابي ځواکونو لا دومره تیوریکي او اوپراتیفي وړتیاوې نه دي موندلي، چې په ټولنیز شعور کې ټاکونکی نفوذ ومومي او ټولنه د پرمختګ پر لور رهبري کړای شي. د افغاني ټولني د ټولنیزو اړیکو د تکامل او له شته ناخوالو څخه د خلاصون په موخه؛ ملي، مترقي او انقلابي ځواکونه مکلف دي، چې د مبارزې په بهیر کې سره نژدې او د یو ځواکمن غورځنګ په توګه خپل تاریخي رسالت تر سره کړي او د ټولنیز شعور او مدني چارو د لارښووني ځواک په ځان کې پیدا کړای شي.

۶. موږ د هیواد په اوسنیو بېړنیو شرایطو کې، د قومي، مذهبي، ژبني او جنسیتي تعصب او تبعیض د له منځه وړلو په موخه، د یو سیکولار، ډموکراټیک، خپلواک او ناپییلي حکومت له را منځ ته کېدو څخه په عمومي ډول ملاتړ کوو.

۷. په اوسنیو مشخصو سیاسي شرایطو کې د سیاسي اسلام د وارداتي او خرافاتي نظریې د ریښو غوڅول او د دغه زهرجني پدیدې سره تونده ایډیالوجیکه مبارزه مخته وړل؛ د ټولو ملي، ډموکراتیکو، انقلابي او خلقي ځواکونو یوه مهمه دنده بولو.

۸. د دې له پاره چې ډموکراسي د خپل اصلي تعبیر سره سم، په رښتیني ډول د ټولو خلکو ځواک تمثیل کړای شي، **د افغانستان کمونیست سازمان د** افغاني ټولني په شرایطو کې **د خلقي ډموکراتیک سیاسي سیستم** طرح، چې وړاندي د نړۍ په بیلابېلو هیوادونو کې په بریالي او اغېزمن ډول تجربه شوې ده، وړاندي کوي.

۹. زمونږ د گوذار اصلي لوری؛ د فیوډالي او ماقبل فیوډالي مناسباتو پر روبناء او د نړۍوالي انحصاري او په هغو پوري تړلو مصرفي او سوداگریزو پانگوالي مناسباتو زیربنا ته متوجه دی.

## د سیمه ییزو مسایلو په اړه:

**د ډیورنډ کرښه:** د ډیورنډ کرښه د پېرنګي استعمار او افغانستان د وطن پلورو واکمنانو د سازشونو په ترڅ کې، د میشتو ولسونو د خوښي او ارادې خلاف د وخت د برتانوي هند په قلمرو پورې ضمیمه شوې، ور پسې د ۱۹۴۷ کال ټولپوښتنه هم په غیر ډموکراتیکه او نمایشي بڼه ترسره شول او د ټولپوښتني سره، د پښتنو او بلوڅو د اکثریت ولسونو مخالفت؛ د يادي ټولپوښتني ټول مشروعیت له منځه یووړ. موږ د ملي حقوقو د تامین د لنیني اصولو په پام کې نیولو سره د ډیورنډ پر کرښه مېشتو پښتنو او بلوڅو د ملي او سیاسي مبارزو ملاتړ کوو او د ملتونو د سیاسي او جغرافیوي برخلیک ټاکنه د هغوی خپل حق ګڼو. د ډیورنډ پر کرښه باندې د افراطیت او ترهګرۍ خپرونکو دیني مدرسو او د بیلابیلو جهادي ډلو د پټنځایونو بشپړه ټولېدنه او له منځه وړنه او په پښتونخوا او بلوچستان کې د سرتاسري سولې، امن، پرمختګ او هوساینې تامین غواړو.

**پاکستان:** د مذهبي افراطیت، استعماري بقایاوو، پانګوالي مناسباتو او پوڅي واکمنۍ څخه ترکیب شوې د پاکستان حکومتي ودانۍ، نه یوازې د خپل هیواد د خلګو، زیار ایستونکو طبقاتو او ملتونو د ځپلو وسیله ګرځېدلې، بلکې په سیمه کې یې تل د لویو قدرتونو د ګټو د ساتندویه ژاندارم دنده ترسره کړې او د افغانستان لپاره بیا د بهرنیو اشغالګرو تخته خېز او افراطي مذهبي ډلو روزنځای او پټنځای پاته شوی. موږ په پاکستان کې د ربښتیني ډموکراسۍ او سکولاریزم د حاکمیت، د ملتونو د حقوقو تامین او

داسي حکومت چې د سیمي د هیوادونو سره سوله ییزي اړیکي ولري؛ غوښتونکي یو. زموږ دریځونه د پاکستان کمونیست گوند د دریځونو سره ډېر نژدې دي او په پاکستان کې د یاد گوند د برنامې او دریځونو څخه خپل ملاتړ اعلانوو.

**ایران:** موږ په ایران کې پر شیعه بنسټپالني ولاړه مذهبي استبدادي واکمني، د سیمي په هیوادونو کې د هغوی لاسوهنه او د مذهبي نیابتي ډلو جوړونه په ټینگه سره ردوو او د یو ډموکراټیک، سکیولر او ناپېیلي حکومت د جوړولو لپاره د ایران د ټولو سیاسي بهیرونو هڅي تائیدوو. زموږ دریځونه د ایران د کیڼ اړخو گوندونو سره په بیلابېلو مسایلو کې ډېر ورته او نژدې دي.

**منځنۍ آسیا:** موږ د منځنۍ آسیا په هیوادونو کې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د اتحاد د سیاسي او ټولنیزو میراثونو د ساتني او سوسیالیستي تېر ته د ور گرځېدني څخه ملاتړ کوو. زموږ د تحلیل له مخي، د منځنۍ آسیا هیوادونه د خپلو جنوبي پولو څخه د مذهبي افراطیت د خپرېدلو له جدي گواښ سره مخ دي. موږ د مذهبي افراطیت د کنټرول په مورد کې د منځنۍ آسیا هیوادونو د ملي او سکیولر حکومتونو تدابیر تائیدوو او په یادو هیوادونو کې د تولیدي ځواکونو او اړیکو د لا زیات تکامل، ټولنیز عدالت او ولسونو د ربښتینو سیاسي او ډموکراټیکو آزادیو تامین، الیگارشانو سره د مبارزې، نړیوالو امپریالیستي هیوادونو سره په گرمو اړیکو کې د احتیاط او کمونیستي گوندونو د فعالیتونو د پراخه کېدلو غوښتونکي یو.

**چین:** چین د خلقي ډموکراټیک نظام په درلودلو سره د ماقبل فیوډالي، فیوډالي او پانګوالي مناسباتو څخه سوسیالیزم ته د اوښتون او د سوسیالیزم د مادي بنسټونو د برابرولو په شرایطو کې دی. موږ په چین کې د خلقي او سوسیالستي تګلوري د دوام، پر ټولنیزو اړیکو باندې د چین د کمونیست ګوند د هر اړخیز حاکمیت او لارښوونې، مارکسیزم-لنینیزم د هر څه زیات تبلیغ او ترویج، د پانګوالي مناسباتو د لا دقیق کنټرول، لارښوونې او په نهایت کې د هغه د انحلال د زمینو برابرولو، په نړیوالو مسایلو کې د چین د خلقي جمهوریت د لا زیاتې مثبتې او رغوونکې ښکېلتیا، د امپریالیزم د مقابل قطب د ایجاد او پیاوړتیا او د بې وزله هیوادونو سره د چین د هر اړخیزو مادي کومکونو او همکاریو غوښتونکې یو.

**روسیه:** ننۍ روسیه سره له دې چې په لویه کچه دولتي اقتصاد او د سوسیالیستي سیاسي او ټولنیز نظام پاتې شوني او میراثونه لري، خو د دغه اقتصاد څخه یې د محدودو الیګارشانو د ګټې اخیستنې کچه ډېره ده. د روسیې حاکمه الیګارشي د خپلو ګټو د تامین په موخه د نړۍ په بیلابېلو برخو کې د نورو امپریالیستي هیوادونو سره کله په شخړو او کله بیا په جوړجاړي لاس پورې کوي. په بله خوا کې لویدیځ او ناټویي امپریالیزم که د روسیې د الیګارشۍ سره د لویو ګټو د ویش پر سر خپلې طبقاتي شخړه لري؛ تر دې ور هاخوا د روسیې د جیوپولټیکې موقعیت، سوسیالیستي تاریخ، د روسیې د خلګو د سوسیالیستي شعور، فرهنګ او میراثونو او په روسیه کې د کمونستي ځواکونو د پیاوړتیا په سبب، د ټولې روسیې داسې دوښمنان ګرځېدلي چې آن د الیګارشانو په منګولو کې د پانګوالي مناسباتو

لرونکې بې وزلې روسیه لا هم دوی ته د منلو نه ده او دوی د روسیې د هر اړخیزې محاصرې او په وړو- وړو هیوادونو او سیمو باندې د ټولې روسیې د تجزیې د پلانونو د تطبیق په حال کې دي. زموږ په نظر روسي الیګارشي، روسیې ته د نړیوال امپریالیزم څخه ور پیښې ګواښونه نه شي دفع کولای او یوازې د روسیې په دننه کې د سوسیالیستي بدلونونو راتلل، د کمونیستانو سیاسي واک نیونه او سوسیالیستي تېر ته د روسیې ور ګرځېدل د روسیې د جغرافیې د پایښت اصلي تضمین کولای شي. موږ په روسیه کې د یاد هیواد د ټولو کمونیستي بهیرونو هغه دریځونه چې د مارکسیزم- لنینیزم د اصولو سره برابر وي؛ تائیدوو او د سوسیالیستي روسیې په بیا جوړونه کې د یاد هیواد د ټولو انقلابي ځواکونو څخه خپل ملاتړ اعلانوو.

**هند:** د یوه لوی او لرغوني ملت په توګه هند باید خپل د آزادانه تکامل لار په خپله ووهي او د لویدیځ امپریالیزم د هغو دسیسو ښکار نه شي چې غواړي هند، د چین او روسیې پر وړاندې بې ځایه اقتصادي، سیاسي او نظامي سیالیو ته وپاروي. په کورنۍ کچه، هندوستان د خلګو د ژوندانه د مادي کیفیت د ښې کېدنې او مذهبي خرافاتو او تاوتریخوالي د له منځه وړلو په موخه، په پراخه کچه د مترقي ټولنیزو، سیاسي او فرهنګي سمونونو تطبیقولو ته اړتیا لري. موږ د هندوستان د ټولو کيڼ اړخو ګوندونو سیاسي او انقلابي مبارزې ستایو او خپل ملاتړ ترې اعلانوو.

## د نړیوالو سیاسي مسایلو په اړه:

**امریکایي امپریالیزم:** د امریکا متحده ایالاتو دولت، د دوهمي نړیوالي جګړې راهیسې، د نړیوالي ارتجاع اصلي تکیه ځای جوړ کړی او د نړیوال پانګوالي نظم د ساتني او د مترقي ځواکونو، په ځانګړې ډول کیڼ اړخو د ټکوني لپاره د نړی په ګڼو هیوادونو کې سیاسي، استخباراتي او نظامي لاسوهني کوي، پرلپسې سخت اقتصادي او سیاسي بندیزونو وضع کوي او د فاشیستانو او مذهبي افراطیانو د واک ته رسېدني هر اړخیز ملاتړ کوي. موږ آزادي غوښتونکې او انقلابي سیاسي مبارزه، د نړیوال امپریالیزم پر وړاندې د هر اړخیزې مبارزې سره تړلې بولو او د نړیوال امپریالیزم سره په مبارزه کې د نړی د ګڼو هیوادونو د ولسونو د لا زیات یووالي غوښتونکي یو. زموږ د تحلیل له مخې، امریکایي امپریالیزم د خپلو داخلي کړکېچونو او په نړی کې د نویو ځواکونو او قطبونو د را ټوکېدلو په سبب، خپل د زوال مزل پیل کړی او داسي مهال ښایي له ځانه څخه لا زیاته تاوتریخجنه بڼه وښیي.

**ویتنام:** د ویتنام سوسیالیستي جمهوریت د صنعتي کېدني او عصري کېدني د بهیر په مخته وړلو سره، د ویتنام د وروسته پاته توب د رفعې او د سوسیالیزم د مادي بنسټونو د جوړولو په ټولنیزو شرایطو کې دی. موږ د یوه عصري شوي او پیاوړي سوسیالیستي ویتنام د جوړولو په لار کې د ویتنام د خلګو او ویتنام د کمونیست ګوند کړني تائیدوو او خپل ملاتړ ترې اعلانوو.

**لائوس:** د لائوس خلګو جمهوریت د خلقي ډموکراسی په پړاو کې، په پراخه کچې د یوې کرنیزې ټولنې څخه د سوسیالیستي اقتصاد د مادي بنسټونو د جوړولو په پړاو کې دی. موږ د اقتصادي بدلونونو او خلګو د ژوندانه د کیفیت د ښه کېدنې په لار کې د لائوس د خلګو انقلابي ګوند کړنې تائیدوو.

**سوریه:** د سوریې وروستي بدلونونه د سیمه ییزو او نړیوالو ورانونکو جوړجاړیو په پایله کې را منځته شوي. موږ په سوریه کې د ټولو جهادي ډلو هر اړخیزې بې وسلې کېدلو، په سوریه کې د یو رښتیني ډموکراټیک او سکیولر نظام د جوړېدلو او سیمي او نړۍ د ارتجاعي هیوادونو د لاسونو لنډېدلو څخه ملاتړ کوو او د سوریې په سیاسي مسایلو کې د یاد هیواد د کمونیست ګوند دریځونه تائیدوو.

**یمن:** موږ په یمن کې د جګړې، سیمه ییزو او بهرنیو لاسوهنو د پای ته رسېدو، عمومي بې وسلې کولو، دیني سیاسي ډلو د منحلېدلو او یوه خپلواکه، سکیولر، ناپېیلي او ډموکراټیک ملي حکومت د جوړېدلو پلوي کوو.

**لبنان:** موږ په لبنان کې د مذهبي او توکمیز ویش له مخې د دولت تشکیل د یاد هیواد د ډېرو ستونزو اصلي ریښه بولو، په یاد هیواد کې د ټولو دیني سیاسي تشکیلاتو او پوځي ملیشو د هر اړخیزه بې وسلې کولو او یوه رښتیني قانوني سکیولر او ډموکراټ حکومت چې د لبنان د خلګو د رښتیني ارادې

محصول وي؛ د جوړولو څخه پلوي کوو او په لبنان کې د یاد هیواد د کمونیست گوند ډېر دریځونه تائیدوو.

**فلسطین:** موږ د ۱۹٦٧ کال د پولو له مخې، د بیت المقدس په مرکزیت د یوه خپلواک فلسطیني دولت د تشکیل او خپلو ملي حقوقو د ترلاسه کولو لپاره، د فلسطین د خلگو د ملي، ډموکراټیکو او سیاسي مبارزو ملاتړ کوو. موږ په اسرائیلو کې د یهودي صهیونیستي افراطیانو او په فلسطین کې د جهادي افراطیانو موجودیت د فلسطین د مسئلې د حل او سیمې امنیت ته یو جدي گواښ گڼو او د ټولو یهودي ملیشو او فلسطیني جهادي سیاسي ډلو د هر اړخیزې بې وسلې کېدنې او منحل کېدنې غوښتونکې یو، د دغو ډلو موجودیت په پراخه پیمانه بهرنیو لاسوهنو او بې مورده وینو تویونو ته د زمینو برابرونکې دي.

**اوکراین:** د اوکراین شخړه د امپریالیستي جیوپولټیکي پراختیا غوښتنې پایله ده. موږ د یو سوله ییز اوکراین، چیرې چې فاشیستان او نازیان سیاسي او پوځي واک او د اوکراین واکمنان د امپریالیستي نظامي تړونونو سره د یو ځای کېدلو تمایل ونه لري او د اوکراین سوله ییز والی او ناپېیلتوب وساتي؛ د جوړېدلو ملاتړ کوو.

**اروپایي اتحادیه:** موږ په اروپا کې د امریکایي امپریالیزم د دریځونو څخه د اروپایي دولتونو د پټو سترگو د متابعت، پوځي لگښتونو د ډېر والي، د نورو نړۍ په هیوادونو کې د اروپایي دولتونو ورانونکو مداخلو او ښې اړخو بهیرونو د ودې او واک ته رسېدنې ټینگ مخالفت کوو، د اروپایي اتحادیې

د مهاجرت د سیاست د انساني کېدلو غوښتونکي یو او د اروپایي کمونیستي ګوندونو د راډیکالو دریځونو څخه ملاتړ کوو.

**لاتینه امریکا:** موږ په لاتینه امریکا کې امپریالیستي لاسوهنو د پای ته رسېدلو، استعماري بقایاوو د ټولېدني او د لاتیني امریکا د خلګو په ګټه د هغوی د منابعو د پر کار اچوني څخه ملاتړ کوو او د لاتیني امریکا د ټولو کیڼ اړخو او سوسیالیستي بهیرونو او ځواکونو سره خپل یووالی اعلانوو.

**کوبا:** موږ د کوبا د جمهوریت او کمونیستې ګوند څخه خپل هر اړخیز ملاتړ اعلانوو، د کوبا د جمهوریت څخه د ټولو اقتصادي بندیزونو د لیرې کېدلو غوښتونکي یو او وړاندیز مو دا دی چې د کوبا حکومت د تولیدي ځواکونو د هر اړخیز تکامل لپاره د زیاتو امکاناتو په برابرولو سره، د سوسیالیستي انقلاب د پایښت زیربنا لا ډېره کلکه کړي.

**وینزویلا:** په سیمه ییزه او نړیواله کچه د نړیوال امپریالیزم پر وړاندې د وینزویلا بولیواري جمهوریت دریځ نیونه د ستاینې وړ ده، خو وینزویلا په داخلي کچه د نړیوال امپریالیزم سره د مبارزې او سوسیالیزم د جوړولو پیاوړي امکانات او تدابیر نه لري، موږ د وینزویلا په دننه کې د پراخو سوسیالیستي اصلاحاتو راوستلو او تولیدي ځواکونو د هر اړخیز تکامل چې د سوسیالیزم د پایښت، ټینګښت او پیاوړتیا لامل وګرځي؛ وړاندیز کوو. زموږ لپاره د وینزویلا د کمونیست ګوند ډېر دریځونه د تائید وړ دي.

**نیکاراګوا:** موږ د نړیوال امپریالیزم سره د مبارزې او په لاتینه امریکا کې د کینې اړخو نهضتونو د ودې په لار کې د نیکاراګوا د ساندنینستي انقلابیانو هڅې د ستاینې وړ بولو او له هغو څخه خپل ملاتړ اعلانوو.

**افریقا:** استعمارونو او امپریالیستي لاسوهنو پېړۍ-پېړۍ د افریقا شمتنې منابع لوټلې او د افریقا خلګ یې د بې شمېره مادي او معنوي رنځونو، کړاوونو سره مخ کړي دي. موږ د افریقا په لویه وچه کې د افریقایي هیوادونو د لا ټینګ اتحاد، استعماري اغېزو او امپریالیستي لاسوهنو د ختمونې، ناقانونه ملیشو او قبیلوي او جهادي وسله والو ډلو د بې وسلې کولو څخه ملاتړ کوو او په افریقا کې د تولیدي ځواکونو د هر اړخیز تکامل او خلګو د ژوندانه د کیفیت د ښه کېدنې غوښتونکي یو.

**د کوریا ټاپو وزمه:** د کوریا په ټاپو وزمه کې د امریکایي اشغالګرو ځواکونو موجودیت د ټولو سیاسي بحرانونو ریښه جوړوي. موږ د کوریا د ټاپو وزمې څخه د ټولو امریکایي اشعالګرو ځواکونو د وتلو او د یوې واحدې، سوله ییزې او سوسیالیستي کوریا د جوړېدلو غوښتونکي یو او د امپریالیزم سره د مبارزې په برخه کې د کوریا د خلګو ډموکراټیک جمهوریت څخه خپل هر اړخیز ملاتړ اعلانوو.

**بریکس پلس سازمان:** موږ د بریکس پلس سازمان عمده موخې، چې د نړیوال مالي نظام سمون، د لویدیځې نړیوالې مالي هژمونۍ سره مبارزه، د بې وزلۍ له منځه وړل او د یو متوازن او عادلانه نړیوال دولتي نظم را منځته

کول دي؛ په نسبي شکل سره تائیدوو او د یاد سازمان سره د افغانستان د یو ځای کېدو غوښتونکي یو.

## د ځینو تاریخي پېښو او ننیو عُمده مسایلو په اړه:

**اقلیمي بدلونونه:** موږ اقلیمي بدلونونه د پانګوالۍ د ځنګل ډوله، بې بند و باره او بې پلانه تولیدي طرز پایله بولو، چې دغو پانګوالي مناسباتو نه یوازي انساني ټولنه د بې شمېره کړاوونو سره مخ کړې ده، بلکې طبیعت ته یې هم ورانونکی زیان اړولی. یوازي په سوسیالیستي تولیدي طرز باندي د پانګوالي تولیدي طرز بدلېدل، د اقلیمي بدلونونو کړکېچ په بنسټیز شکل حلولای شي.

**مصنوعي ځیرکتیا:** د تولیدي وسایلو او تخنیک وده د پانګوالي تولیدي اړیکو پر مهال د پانګوالي ټولني کړکېچونه لا پسي ژوروي او د سوسیالیستي تولیدي طرز لپاره زمینه برابروي. موږ په علومو، تخنیک او مصنوعي ځیرکتیا کې پېښېدونکي ټول نوي پرمختګونه د دې لپاره تائیدوو چې د بشریت د لا هوساینې او سوکالۍ لامل به ګرځي او د یو وړوکي پانګوال اقلیت له لوري د هغوی د لا شتمن کېدلو په موخه، د علم او ټکنالوجۍ د ناسمي ګټې اخیستنې مخالفت کوو.

**جنسي اقلیتونه او جنسي آزادي:** زموږ په باور جنسي آزادي د انسانانو د بنسټیزو آزادیو او حقوقو څخه ده، خو د جنسي آزادۍ او جنسي بې بند و

باری مفاهیم یو له بل سره بېل ګڼو. موږ د انسانانو ترمنځ په متقابلو فردي اړیکو کې، تر جنسي اړیکو د انسانانو عاطفي اړیکه او رښتیني مینه ټاکونکې بولو. دا هم منو چې ځیني انسانان د خپلو خاصو فزیکي او هورموني جوړښتونو په سبب، بیلابېل ډوله جنسي تمایلات پیدا کوي، خو د سالمو انساني نسلونو د ودې او روزني په موخه د سالمي جنسي روزني ترویج اړین ګڼو او د جنسي فقر او جنسي افراط او بې بند وباری د محوي او روزنیز کنټرول غوښتونکي یو.

## د شوروي اتحاد او ختیځي اروپا د سوسیالیستي نظامونو د انحلال عوامل:

شوروي اتحاد او ختیځه اروپا د سوسیالیستي ټولنیز، اقتصادي او سیاسي سیستم د عدم موثریت او یا د ولسونو د پاڅونونو په ترڅ کې نه، بلکې د امریکایي او ناټویي امپریالیزم ډېرو سیستماټیکو او اوږد مهاله ورانونکو استخباراتي عملیاتو په ترڅ کې، چې عمده محور یې د کمونیستي ګوندونو په راس کې د منحرفو او کارګري طبقې د دوښمنو عناصرو واک ته رسول ول؛ له پاسه په کودتایي بڼه د انحلال سره مخ شول. د شوروي اتحاد او ختیځي اروپا د سوسیالیستي نظامونو انحلال، زیار ایستونکو ولسونو، کارګري طبقې او نړیوال کمونیستي غورځنګ ته کلک ګوذار ورکړ او د نړۍ د زیار ایستونکو د مبارزاتو په تاریخ کې یې یوه ډېره ترخه خاطره پرېښودل.

**د شلمي پېړۍ په نړیوال کمونیستي غورځنگ کې د اختلافاتو په اړه:**

مورږ په شوروي اتحاد کې تر ستالین وروسته، د خروشچف او د ده د منحرف باند د واک ته رسېدلو په مقابل کې د مائو، انور خوجه او نورو کمونیستي رهبرانو دریځ نیوني کره او سمي گڼو، خو دوی هر یوه د خروشچفي ریژیونیزم سره په مبارزه کې خپله هم متعددي او د پام وړ تېروتني کړي چې پایلي یې نړیوال کمونیستي غورځنگ ته ورانونکي تمامي شوې.